**جمهورية مصر العربية** **٢٥ ربيع الأول ١٤٤١هـ**
**وزارة الأوقاف** **لغة البشتو** **٢٢ نوفمبر ٢٠١٩م**

(١)

## د عامو ګټو او د عامو چارو ساتنه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمايلي: **« وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ »ژباړه:« کوم کارونه چي د نېکی او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ. د الله څخه ووېرېږئ، د الله عذاب ډېر سخت دی»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

په يقينی ډول د اسلام مبارک دين حقيقی او واقعی دولت رامنځته کړی وو او د هغي بنسټونه يي ايښي وو او ارزښتونه يي ورته ټاکلي وو، او خلک يي ديته هڅولي ترڅو ددي ساتنه وکړي او ددي ساتنه يي اړين ګرځولي او پاملرنه پري د ټولو ګډ مسؤليت ګرځولی هر څومره چي خلک د عامو چارو په پوهيدني او د هغي خطرباندي پوهيږي همدومره ورسره همکاری او يووالی زياتيږي او ټولنه پري پياوړی کيږي او د يو بدن په څير ګرځي چي د يو غړي به درد سره ټول بدن درديږي لکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي: د مومنو مسلمانانو مثال په مينه رحم او په همدردۍ کي د بدن په څير دی کله چي دبدن هر غړی دردوکړي نو ټول بدن ورسره درديږي.

بی له شکه د عامو چارو د ساتني يو له مهمو ارزښتونو څخه د عامو ګټو مخکيوالی دی چې بايد په خاصو ګټو باندي مخکې کړای شي ځکه چې ګټه يي ټولو خلکو ته رسيږي او يواځې په يو اړخ باندي منحصره نه وي او پدي سره د ټولني ټول مادي او معنوي اړتياوي هم پوره کيږي خلکوته خير او ښيګڼه رسيږي له هغوی څخه شر او فساد لري کيږي د هيواد د برقراری او د ځمکنی بشپړتيا لامل کيږي او بي له شکه چې د امت او د ټولني ګټه د لومړيتوبونو فقه هم غواړې.
او قرآن کريم هم پدي باندي ټينګار کړی چې د عامو ګټو ساتنه اوپه خاصو ګټو باندي د هغي مخکې والی د رسولانو او ټولو انبياؤ لاره وه ځکه هيڅ رسول ندی ليږل شوی مګر د خپل قوم د خوښۍ لپاره ليږل شوی ترڅو هغوی ته خير ورسوی بغير لدي چې دهغوی څخه د مادياتو او دنياوي ګټو غوښتنه وکړي لکه چې د نوح عليه السلام هود او د شعيب عليهما السلام په ژبو باندي الله تعالی فرمايلي: « وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ وَلَكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ، يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي أَفَلَا تَعْقِلُونَ، إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ» ژباړه: «او اې قومه! زه پردې وظيفه ستاسي څخه کوم مال نه غواړم، زما اجر خو پر الله باندي دی. او زه د هغو خلکو شړونکی هم نه يم چي زما خبره يې منلې ده، هغوی په خپله د خپل رب حضور ته ورتلونکي دي. خو زه ګورم چي تاسي جهالت غوره کوئ. اې قومه! پر دې کار باندي زه ستاسي څخه کوم اجر نه غواړم؛ زما اجر خو د هغه ذات په ذمه دی چي هغه زه پيدا کړی يم. ايا تاسي له پوهي څخه کار نه اخلئ؟ شعيب (ع) ورته وويل: "اې قومه! تاسي په خپله فکر وکړئ چي که زه د خپل رب له لوري پر يوې روښانه شاهدی وم او بيا هغه له خپل لوري څخه ما ته ښه روزي هم راکړه، (نو له دې څخه وروسته زه ستاسي په ګمراهيو او حرام خوريو کښي ستاسي سره ګډون څنګه کولای

شم؟) او زه هيڅکله دا نه غواړم چي له کومو خبرو څخه چي زه تاسي منع کوم، د هغو په خپله مرتکب شم. زه خو اصلاح کول غواړم تر څو پوري مي چي وس رسيږي. او زه چي د څه شي سرته رسول غواړم، هغه په ټوله معنا د الله په توفيق پوري تړلي دي، ما پر همغه باندي توکُل کړی دی او په هره معامله کي د همغه لوري ته رجوع کوم».
اسلامی شريعت پداسي ډول سره راغلی چې د عقل سره برابر دی او ددي چاري داسي دې چې ټول هيوادوال بايد د عامو ګټو ساتنه وکړې او لدي جملي څخه يو هم دا دی چي بايد د ټولني ضروري اړتياوي پ،ره شي او د واقعيتونو فقهي ته پاملرنه وشي که چيرته د ټولني اړتيا پدي کې وي چې روغتونونه دي جوړ شي او د بي وزلو لپاره برابر کړی شي نو همدي ته بايد لومړيتوب ورکړل شي، او که د ټولني اړ تيا پدي کې وي چې مکتبونه او معهدونه ورته جوړ شي او د هغي بيا رغونه وشي او په شاګردانو باندي زيات صرف وشي نو بيا لومړيتوب همدلته دی که چيرته ټولنه اړتيا ولري چڅ د بي وزلو سره مرسته وشي ترڅو د هغوی پور ادا شي نو بيا لومړيتوب همدلته دی نو د خلکو اړتياوو پوره کول او د هغوی د ژوند جوړول د شرعي او هيوادنی وجايبو څخه ګڼل کيږې پدي هکله نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: هغه څوک مومن ندی چې په مړه خيټه څملي او ګاونډی يي وګی وي او دا پري پوهيږي.
همدارنګه لدي جملي څه بله هم د عام مال ساته ده چې بايد ترسره شي او پدي کې ټول هيوادوال شريک دي د عام مال حرمت د خاص مال حرمت څخه ډير سخت دی ځکه چې د ډيرو حقونه ورباندي تړلي وي او زياد ذمه واري لري نو له همدي کبله اسلام خبرداری ورکړی چې دا له منځه يو نړل شي او يا هم لا ترسرهنشي پدي هکله الله تعالی فرمايي: « وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تُوَفي كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ»، ژباړه: «دا د هيڅ يو پيغمبر کار نه شي کېدای چي خيانت وکړي. او هر څوك چي خيانت وکړي، هغه به له خپل ټول خيانت سره د قيامت په ورځ

حاضر شي. بیا به هر چا ته د هغه د کړو وړو پوره پوره بدله ورکړه شي او پر هیچا به هیڅ تېری ونشي»، نو عام مال د ټولو خلکو ملکیت دی د یوي خاصي او ځانګړي ډلي پوري تړاو نلري او څوک چې دا چاري پرمخ وړي باید ددي ساتنه وکړې او خپلو خلکوته ورسوي هیچا ته جائزه نده چې تیری پري وکړې او یا هم هغه څه تري واخلي چې مستحق یي نه وي ځکه دا یو ډول خیانت او ظلم دی او په باطل ډول سره د خلکو د مال خوړل دي.

همدارنګه د اسلام مبارک دین د عامو ادارو د عبادت ځایونو مکتبونو روغتونونو باغونو او د نورو شیانو د ساتني امر کړی دی او دا یي د ټولو خلکو ګډ ملکیت ګرځولی دی ځکه چې ګټه یي ټولو خلکو ته رسیږي او خبرداری یي ورکړی چې باید تیری پري ونشي او په هیڅ ډول فاسد نشي الله تعالی فرمایي: « وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا» ژباړه: «او په ځمکه کښي فساد مه را ولاړوئ چي کله په هغې کښي اصلاحات راغلي دي»، دا ددي لپاره راغلی دی ترڅو څوک دا وهم ونکړي چې عام ملکیت څنګه یي چې خوښه وي هماغسي وکاروي پدي دعوی باندي چې دا ګډ د ټولو حق دی دا غلط فهم دی نو مونږ باندي لازمه ده چې د عامو ادارو ساتنه وکړو او وده او پرمختګ پکې راولو ځکه دا د یو وګړي پوري اړه نلري او نه هم کومي خاصي ډلي پوري بلکه دا زمونږ د ټولو دي او د راتلونکې نسلونو لپاره دي.

همدارنګه لدي جملي څخه بل هم د لاري ساتنه ده او د هغې د حق ادا کول دي پدي هکله نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: تاسو په لارو کې مه کینئ ورته وویل شو ای د الله رسولا! مونږ باید مجلس وکړو ترڅو خبري پري وکړو نو بیا یي ورته وفرمایل: که چیرته داسي وي د لاري حق بیا ادا کړئ ورته وویل شو د لاری حق څ دی ورته یي وفرمایل: سترګي ټیټي کړئ زیان مه رسوئ او سلام ته ځواب ووایئ په نیکیو امر او د بدیو څخه ځان وژغورئ همدارنګه نبي کریم صلی الله

علیه وسلم فرمایلي: ایمان څو اویا شاخونه لري غوره یې کلمه ده او آخر یي د لاري څخه د زیان رسوونکې ښي لیري کول او حیا هم د ایمان یوه برخه ده.
همدارنګه لدي جملي څخه بل هم د هیوادنۍ مکلفیتونو سرته رسول دي او دا هغه واجبات دی چې دین او هیواد لازم کړې ځکه چې هیواد هم د ددین په خیر د انسان لپاره لازمي ده چې ساتنه یي وکړې او پدي لاره کې میړانه وښایي او زمونږ د اسلام مبارک دین هم پدي باندی ټینګار کړی لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: دوه ډول سترګي به اور ونه ګوي یو هغه چې د الله په لاره کې وژاړې بل هم هغه چې د الله به لاره کې د ساتني دنده په غاړه ولري.
همدارنګه لدي جملي څخه بل هم دا دی چې باید هیواد د نورو هیوادونو سره په کړي تړونونو باندي پوره والی وکړې ځکه چې دا هم اړینه ده چې باید پدي لاره کې ددي تول ساتنه وشي او په شویو تړونو باند وفا وشي لکه چې الله تعالی فرمایي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ » ژباړه: «اې مؤمنانو! د بندیزونو پوره مراعات وکړئ»، پدي آیات کې تول تړونو او عهدو ته اشاره شوی ده چې یو انسان یي د بل انسان سره کوي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: مسلمانان پهشرطونو باندي باید پابند ووسي مګر هغه شرط چې حلال حرام کړي او حرام حلال کړې.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حدیبی په سوله کې بیلابیل داسي تړونونه وکړل او شرطونه یي ومنل چې سخت وو وربانديي او د قریشو سره یي تړونونه لاسلیک کړل او دا پخپله د وفا داري ښودنه کوي.
همدارنګه بدي برخه کي باید د هیواد د ساتني امنیت او برقراری لپاره هم کار وشي او هغه څه له منځه یوړل شي چې خطرونه ورته مخامخ دي ځکه چې دا بیا تول هیواد ته زیان رسوي الله تعالی فرمایي: «وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ

مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا» ژباړه: «دوی چي کله کوم د ډاډ یا ويري خبر اوري، هغه خپروي؛ په داسي حال کښي چي که دوی هغه (خبر) پيغمبر او د خپلي ډلي مسئولو کسانو ته ورسوي، نو پر هغه به داسي ډول خلك وپوهيږي چي د دوی په منځ کښي د دې خبري صلاحيت لري چي له هغې څخه سمه نتيجه واخيستلی شي. که پر تاسي د الله مهرباني او رحمت نه وای، نو (ستاسي نيمګړتياوي داسي وي چي) له څو تنو پرته به نور ټول په شيطان پسي خوځېدلي واست».

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری،او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

په عامو ګټو او په عاموچارو باندي ځان پوهول ددي لامل کيږي چې د محدودو او تنګو ګټو څخه د ټولني د عامو ګټو لوري ته پاملرنه وشي نو له همدي کبله دا چاره د ټولو وګړو ترمنځ خپور نه وي بلکه دا چاري تخصص لرونکي خلک پرمخ وړي چې د هغه څه ارزښت باندي پوهيږي چې د دوی په اړه اچول شوي وي ځکه ځيني داسي چاري هم شته چې د ملی امنيت پوري اړه لري چې د خلکو ژوند ګټي او د هيوادونو ارزښتونه او دده هيوادونو سيمه ايیز او نړيوال ځای همدي پوري تړلي وي او د همدي لاري خپلي سياسي ټولنيز امنيتي علمي او نوري چاري پرمخ وړي او د علم خاوندانو تينګار کړی چې بايد څوک اجتهاد کوي هغه د اجتهاد

او د نظر خاوند باید ووسي نو کله چې بیا پدغه وخت کې اجتهاد وکړې که چیرته اجتهاد سم هم نه وي یو اجر ورکول کیږي او که اجتهاد یي سم وو بیا دوه اجره ورته ورکول کیږي نو دلته بیا د مفهوم مخالفي تقاضا دا ده چې که چیرته یو څوک د اجتهاد وړتیا ونلري او اجتهاد کوي نو بیا دلته که اجتهاد یي سم هم وي نو یوه ګناه ورکول کیږي ځکه چې په حدیثو او فتوی ته لاس اچولی حال دا چې علم نه لري که اجتهاد وکړي او اجتهاد یي غلط وي نو بیا دوه ګناهونه ورته لیکل کیږي یوه ګناه ددي لپاره چې غلطه فتوی یي ورکړی او بله ګناه یي ددي لپاره چې جرآت بیر له علم څخه کړی ترڅو حدیثو او فتوی ته لاس واچوي نو د اسلام مبارک دین همیشه ددی ټینګار کړی چې د علم او د اختصاص خاوندانو ته درناوی وشي لکه چې الله تعالی فرمایي: « فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ» ژباړه: «تاسو د علم د خاوندانو څخه پوښتنه وکړې که چیرته نه پوهیږئ»، د پند او د ذکر خاوندانو څخه مقصد دلته د علم او د اختصاص خاوندان هغه که د هر علم پوري اړه ولري.

نو له همدي کبله بغیر د علم څخه او بغیر د شرعي سند څخه د فتوی په ورکولو کې دچټکی کولو څخه منعه شوی لکه چې الله تعالی فرمایي: **«فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا لِيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ،** وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَذَا حَلَالٌ وَهَذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ * مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» ژباړه: «او همدغه راز دوه د اوښ له ډوله او دوه د غوایي له ډوله دي. پوښتنه وکړه: «ایا خدای د دوی نر حرام کړیدي که ښځي، یا هغه بچی چې د اوښې او غوا په ګېډه کښي وي؟ - ایا تاسې په هغه وخت کښي موجود وئ چې الله د هغو د حراموالي حکم درکړی ؤ؟»- نو له هغه چا نه به بل لوی ظالم څوك وي چې د الله لوري ته د دروغو وینا منسوب کړي، تر څو چې له علم څخه پرته خلکو ته غلطه لارښوونه

وکړي. په باوري توګه الله دغه راز ظالمانو ته سمه لاره نه ښيي. او دا چي ستاسي ژبي د درواغو حکمونه صادروي، چي دا حلال او يا دا حرام دي؛ نو په دغه شان حکم کولو سره پر الله درواغ مه واياست. څوك چي پر الله درواغ تړي، هغوی هيڅکله بری نه مومي. د دنيا خوندونه څو ورځي دي. په پای کښي د هغو لپاره دردناکه سزا ده».
پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې بغير د علم څخه فتوی ورکړي ګناه يي په هغه چا باندي ده چې فتوی يي ورکړي ده، همدي لپاره لوی صحابه کرام او تابعين به د فتوی ورکولو څخه ډاريدل ځکه چې هغوی پوهيدل چې دا ډير خطر لري حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه فرمايلي: کوم آسمان لاندی به ژوند کوو او د کومي ځمکي د پاڅه به څنګه اوسيږو پداسي حال کې چي د الله په کتاب کي د علم څخه پرته خبري کوي، او يوه ورځ د شعبی رضی الله عنه څخه د يوي مسآلي په هکله پوښتنه وشوه وي وفرمايل زه پري په ښه ډول نه پوهيږم هغه وويل ملائکو هم ويلي وو « لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا» ژباړه: «مونږ لره علم نشته مګرهغه چې تا مونږ ته را ښودلی»، او عبدالرحمن بن ابی ليلی فرمايي ما د يوسل او شلو څخه زيات صحابه وليدل چې پوښتنه به تری وشوه نو يوبل به يي ليږل تر دي چې بيرته به لومړي شخص ته مسآله راتلله.
د عامو چارو ساتنه ګډ مسؤليت دی هر چاته د خپل توان په اندازه بايد کار وکړې لکه چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې هرکس د شپونکي حيثيت لری او هر يو په تاسو کې د خپل رعيت مسؤأ دی امام د خپل رعيت مسؤل دی سړی د خپل کور مسؤليت په غاړه لري ښځه د خپل د ميره د کور مسؤوله ده خادم د خپل د بادار د مال د ساتني مسؤليت په غاړه لرې.
ډيری خلک اوس داسي دي چي خپلو خبروته يي پام نه وي چي څه وايي يا ليکي او يا هم د ټولنيزو پانو له لاري خپروي دوی ديته نظر نه کوي

چې د بې ځایه اوازو خپرول د هغو وسیلو د جملې څخه ګڼل کیږي چې د باطل خاوندان د حق خاوندانو په وړاندې کاروي ځکه چې له کبله یې د هغه امت وګړي یو په بل باندې شکونه کوي چې د یو بدن په څېر دي نو له همدې لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د یو چا لپاره همدا دروغ بسنه کوي چې هر هغه څه وایي چې واوري.
دا چې یو انسان هر څه چې واوري او وایي یو ډول د درواغو د جملې څخه ګڼل کیږي او ویونکي ته په آخرت کې پ‌ءې سخت سزا ملاویږي نود هغه چا په هکله به دې څه خیال وي چې پداسې ډول خبرې کوي چې نه یې لیدلی وي نه یې اوریدلی وي او نه علم لري او له ځان څخه په درواغو خبرې کوي بهتان کوي نو ومره دروند جزا به ورکول کیږي نو له همدې لپاره پدې باندې ټینګار شوی چې باید په خبرو کې احتیاط او پاملرنه وشي د عقل څخه کار واخیستل شي بغیر د علم څخه فتوی باید ورنکړل شي.
الله تعالی مونږ ته امر کړی چې ثابت ووسیږو او د تخریب کارانو خبرووته غوږ کینږدو او د ټولو هغو خبرو څېړنه وکړو چې مونږ ته رسیږي چې آیا ریښتیا دي او که نه لکه چې الله تعالی فرمایي: «**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ**» ژباړه: «اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ»، او پدې هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: فکر کول د الله تعالی له لوري څخه دي او عجله کول د شیطان له لوري څخه.
نو مونږ او تاسو ټول دیته اړتیا لرو چې د عامو چارو په ارزښت باندې پوه شو او عامې ګټې مخکې کړو او هغه خطرونه درک کړو چې زمونږ څخه را چاپیره شوي دي ترڅو پدې کې ونه خوییږو او پدې سره د دین او

د هیواد د دښمنانو په وړاندي ټول چالونه د ناکامۍ سره مخامخ کړو او په حق باندي ثابت شو او زمونږ په منځ کې باور فضا رامنځته شي او د خیر او ښیګڼي په کارونو کې همکاري وکړو ځکه چې اغیزي یې په ټولو خلکو باندي پریوځي.
الله تعالی دي مونږ ته توفیق راکړې ترڅو هغه حقونه ادا کړو چې هیواد پر مونږ لري او الله تعالی دي زمونږ ولس او د چارو سمبالوونکي پوځ پولیس وساتی او زمونږ مصر د نوري نړۍ د هیوادونو سره په امن او هوساینه کې ولري.